

# بمونه او غمونه

څېړنمل محمد عارف غروال

# بمونه او غمونه

PROPERTY OF
ACKU
670

Download from; aghalibrary.com

ژبړونکی محمد عارف غروال

کال ۱۳٦۷ هـ.ش

بسم اللہ الرحمن الرحیم

Download from; aghalibrary.com

## دکتاب مشخصات:

دکتاب نوم: بمرونه او غمونه

مؤلف : څېړنمل محمد عارف غروال

خطاط : سید قاسم چکنوری

خپرونکی: دافغانستان ملي اسلامي محاذ

دپښتی طرحه: تورن قربان شاه

دچاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ کال: ۱۳٦۷

Download from; aghalibrary.com

# اهداء

دافغانستان دمسلمان ملت قهرمانو غازیانو او
مجاهدینوته ، دافغانستان دقهرمان ملت دلکونو شهیدانو
پاکوروحونوته اودا اسلامي افغانستان لکونو یتیمانو، کونډو
بوړو او وړاروته چي دغمجن زړه دتاثراتو دیوي ډالۍ
په توګه وړاندې کوم .

Download from; aghalibrary.com

په جینوا کې مې تقدیر څوک بدلولای نه شي
موږ لا پخوا د سر بښندنې فیصله کړې ده
د بل په خوښه فیصلې هیڅوک منلای نه شي
ویښ ملتونه هیڅ قوت له منځه وړلای نه شي

بسم الله الرحمن الرحیم

# شعر منثور د ناخوښا د رخمي زړه

## سي

دګران هیواد دین دین دوسته او وطن دوست شاعر
محمد عارف غروال د معزز اشعارو مجموعه چې نوموړي له ۱۲ کلمیز
کال څخه را پدې خوا زموږ د مسلمان او غیرتمن ملت د مقدس جهاد
په اوږدو کې ویلي او لیکلي دي زما مخې ته پرته ده .
څرنګه چې لیکوال د شعر او لیکوالۍ اوږده سابقه لري او دیو داسې
نامتو او پېژندل شوي شاعر په شعرونو څه لیکل زما په شان
دیو غیرفني او عادي سړي ، چې د شعر او فن په بوله هم نه يي
تیر شوی ، له وسه کله پوره ده . دا کار د هنرکارانو دی او د لیک
داستادانو . چې د کتاب د چاپ کېدو وروسته سبایې لیکنې
پرې وکړي ، تقریظونه او کره کتنې پرې ولیکي .
نه به دیو شوه نالست او صحافي په حیث د خپلې وظیفې او

مسلک په اړه د خپل درك او تحلیل په رڼاکې یوه د یره لنډه لیکنه پړې وکړم په دې ډول چې :

شاعر دیو ژور درد او سوز ښتن دی . دغه درد هم د هغې ژورې مینې په نتیجه کې چې د خپل وطن او خلکو سره یې لري پیدا شوی دی . په تېره بیا هغه وخت چې لس کاله دمخه د روس کمونستي پرېښو زموږ د مسلمان ولس په سیاسي واك گېډه اچوله او بیا د روسانو دلوټ او بربنډه تېري په نتیجه کې مهاجرت ته مجبور شو ، د دغه درد او سوز لمبې نورې هم ژبغړاندې شوې . دغه درد او دغه سوزه غربت ځپلی او جلاوطن شاعر دې ته مجبور کړ چې خپله تموله هستي د خپل گران ، خوږه او جنت نشان وطن لپاره وقف کړي . شاعر هم دغه مطلب د خپلو احساساتو په ژبه کې اظهار وي په دې ډول چې :

زه د گران وطن په پاکه مینه خپل ژوند وزن کړم
ځکه مي د گران افغانستان لمنه ونیوه

هسې خو هم د غزوال شاعري په عمومي توگه د وطندوستۍ او ولس دوستۍ په مینه مسته شاعري وه چې زموږ د گران

هیواد د شعر او هنر سند ریزه فضا یې ښکلې او خوندوره کړې وه . خو د مهاجرت په وخت کې یې لکه څنګه چې د غه مینه څومره زیاته شوه ، ورسره جوخت یې غمونه او دردونه هم څو چنده زیات شول . همدا سبب دی چې د شاعر د غه شعرونه د هغو لویو غمونو او ژورو دردونو ښکارندوی دي چې د شاعر زړه د هغوی انګار داغلی او پولې پولې ګرځېدلی دی . د داسې دردونو احساس یوازې هغه څوك کولی شي چې د غروال په شان په شته وطن کې بې وطنه شوی وي . دا شعرونه په حقیقت کې د شاعر د زړه تنهاکې دي . د هغه زړه تنهاکې چې د غربت او جلاوطنۍ په سکروټو داغلی او تنهاکې شوی وي . او د هغه ژوبل او مجروح زړه خوناب د ی چې د کمونستي استبداد د ستم په غشو لګیدلی دی . دی خپل د غه سوزناك درد ، د غه د پردیسۍ او محرومیت درد په خپل شعر کې داسې څرګندوي :

مسافر پروت یم په بل وطن کې
ګلونه خوند کړي په خپل چمن کې
ژوندي مې په یادو د خپل وطن دي
وا به م وطن به په ځنکندن کې

یا دا چې :

باغ - بوستان شته خو بلبلانو خښني کنډوکړه

زما دپلار نیکه په بڼ زاغ او زغن پاتې شو

غږوال خپل شعر او ادب دخپلو خلکو او خپلې ټولنې - ټولنیز ژوند ته وقف کړی او په دې نظر دی چې ادب د ژوند تصویر دی. نو ځکه د نوموړي د شعرونو دغه مجموعه هم زموږ د مسلمان او ننګیالي اولس د سیاسي او اجتماعي ژوندانه د مختلفو پېلو ارخونو انځورګره ده، چې دلسو کالو راپدېخوا د روس د کمونستي تیري او استبداد په مقابل کې زموږ د مجاهد او جنګیالي ولس د بې دریغه مقاومت او قربانیو ځخه انځیزمن دی.

په یوه بېدفاع او کوچني او په اقتصادي لحاظ وروسته پاتې خو له ایمان او عقیدې ځخه برخمن ولس، د نړۍ له لوی مادي او پوځي ځواك له خوا د تحمیل شوې خونړې جنګ په نتیجه کې هره ورځ وینې بهېږي، کلي او کورونه نړېږي، ښارونه ورانېږي، باغونه سوځېږي او بالاخره وطن ویجاړېږي. د دغو وینو، د دغو رنګونو او د دغې ویجاړتیا ننداره هرڅوك کوي خو د شاعر دید بېل دی او احساس یې بېل. او که نه نو د غږوال په دې شعرونو کې ولولئ:

له سروستن گومې داوښکو رود روان دی
سور په وینو مې ننګرهار افغانستان دی
قربانۍ ته مې دقام نه منظورېږي؟
که لا پاتې ترانه وخت دامتحان دی

یادابل شعر:

چې بې سواله بې ځوابه وېجاړېږي
دا بې هیلې بې اسرې مسکن دچا دی؟
چې هرکانی دشهید په وینو رنګ دی
دغاټولو په شان سور مدفن دچا دی؟

په دې خو به ټول سره متفق یو چې دافغان جنګیالی او بریالی ولس دلس کلن جهاد په اوږدوکې دپښتو ژبې شعر او ادب یوه لویه غنا څپه کړې ده. ځانګړې لوری یې پیدا کړی دی او د روسي سیرغونو په وړاندې یې دمومنو او وطندوستو پرګنو په راپاڅولو او پاڅولو کې ارزښتناکه ونډه درلودلې ده. که څه هم حماسي ادبیات له هغو لومړیو پېړیو څخه په پښتو ژبه کې رواج درلود او دپېړیو په پوړیوکې یې دزمانې له غوښتلو سره سم

خپل رسالت ترسره کړې دی، ځ دروانو جهادي ادبیاتو روح د ډېر غني لوغښتلی، هدف یې سپین او سپیڅلی او د مبارزې څرګه یې ډېره تیره ده .

د غروال پدې مجموعه کې هم زیات شعرونه حماسي شعرونه دي چې شاعر د معنوی زیاته برخه په هیواد کې دننه د جهاد په مقدس سنګرونو او جهادي مرکزونو کې لیکلې ده او هم دوسله وال هاذتښا په دارالهجرت ( صوبه سرحد پاکستان ) کې . چې یو ډېر نمونه یې دلته لوستونکو ته وړاندې کوو :

نارې سورې دي غرو د پکتیا کې
د برېښي غز دی په هره خواکې
دښمن د تېښتی لوری ورک کړی
ځوانان ترې تاو دي په پکتیکا کې

شاعر زموږ د دین او وطن غلیم - زموږ د خلکو او ملو غلیم له نږدې پېژني . نه یوازې ظاهري بڼه کې د مغر باطن هم پېژني . د مغر د ټولختیا غوښتنې او جهان نیونې هڅې یې د سر په سترګو لیدلي او درک کړې دي . د مغر بې رحمه او سفاکه څېره او یې

بیخي ورته لېښه او بربنډه شوېده . هغه غلیم چې ټولې شان د نړۍ د
ولسونو۔ هېوادونو ته ورننوتلی او بیا یې لوټ او تالان پیل کړی
دغه غل اوس زموږ د هېواد د مبارز ولس په منځ کې راګیر دی او د
تېښتې لارې ترې ورک شوې دي . شاعر د بشریت د دغه مسکو
دښمن په باره کې خپل شاعرانه اظهار داسې کړی :

د بري په لور روان يم په منځ سره
راګیر کړی می نن بیا نړیوال غل دی
غلا يې نور ملکونه هر يو کې جلبل کړي
دغه اوس چې نن زما په خونه بل دی

زموږ په ګران او ښکلي هېواد باندې د شمال خونړیو او تیا
کوونکو طوفانونو د سرو پولادو داسې بلها ووهلې چې دې
جنت نښان وطن ودان کلي یې په کنډوالو بدل کړل . ښارونه
باغونه یې وسوځول او په سلګونو زره افغانان یې د خپلو شهیدانو
په غېږ کې او داغدار کړل . دغو سوځونو، ځپونو او ډیرو
او بې نظیره - ستمونو د افغان ولس سره دوست او سالم
ذهنیت ته ستر صدمه ورسوله - هغه ذهنیت چې د ننګه
بشري تعلیم له پاره لازم او ضروري شکل کیږي . دا هر د
کمونستي الحاد د تسلط برکت وچې د دیني او عبت په

ځای یې د خلکو په زړونو کې دکینې، عداوت او غـــچ اخیستنې تخمونه وکرل . غروال هم دین ولسي او وطن دوست شاعر په حیث دخپل مسلمان او بېدفاع ولس په بدبختیو او ناخوالو سخت ځوریدلی او کړېدلی دی. او د دغو دین دښمنو او ولس دښمنو په وړاندې یې د غچ اخیستنې شور احساسات راپارېدلي دي چې انعکاس یې په شعرکې هم لیدل کېږي:

سبا مې نیت دی چې د دوی کورنۍ وسوځوم
خیر دی که زما کورونو باندې اورپوری شو

زه د افغانستان د ملي اسلامي محاذ د نشراتو د مسئول په حیث د خپل دین، وطن او ولس په هکله د محمد عارف غروال شاعرانه احساسات ستایم او د شعر فن تر یې د قدر په سترګه ګورم . ځکه چې ما په هغه کې د شاعر د ثورو دردونو او انقلابي ولولو انعکاس موندلی او له دې کبله مې ورته د تېـي زړه خوښاب ویلی دی.

د دې ادارې له پاره دویاړ ځای دی چې د یو ډاسې ادبي اثر په چاپ او خپرولو يې لاس پورې کړی دی او لوی خدای (ج) دې موږ ته توفیق را کړي چې د قلمي جهاد په دې برخه کې دې ته ورته نور ګامونه هم پورته کړو.

ومن الله التوفیق

توریالی ځاځی

د نشراتو لوی مدیر

ما د سپېڅلي لوی آزاد افغانستان په هيله

ما د انسان د انسانيت د ستر ارمان په هيله

سنګر د حق چې مې په خپلو پښو ټينګ کړه

په خپل وطن کې حاکميت د پاک قرآن په هيله

# لوړنۍ خبرې

ژوند د لوړو او ژورو د ډېرو او د ستونزو او مشکلاتو په مقابل کې د مقاومت او مقابلې نوم دی، انسان چې په کوم محیط او کومه ټولنه کې ژوند کوي له ښو او بدو څخه متاثر کیږي د خپلې ټولنې د وګړو په خوښۍ خوشالیږي او په خپګان یې ضرور خپه کیږي، په یوه ټولنه کې هر ډول وګړي ژوند کوي ځینې داسې وي چې د ټولنې د استوګنو د پېرلن تاثر او خپګان په مقابل کې هم خپل احساسات نه شي کنټرولولای او د خپلې ټولنې د هر وګړي غم او خپګان شخصاً د ځان غم او خپګان ګڼي.

شاعر او لیکوال د خپلې ټولنې او چاپېریال د پېښو او حوادثو د انځورګر په توګه د داسې حساس زړه او نازک احساس درلودونکي دي چې خپل احساسات تر کنټرول لاندې نه شي راوستلای، هغه ځم انځوروي چې د ده د ژوند د محیط په چاپېریال کې پېښیږي.

د افغانستان د ولس کلن جهاد په اوږدو کې زموږ د مسلمان او مجاهد ملت په ګوټ ګوټ کې د وسله وال مقدس جهاد تر څنګ

فرهنګي سنګر هم تود وساتل شو او په دې موده کې یو زیات شمیر داسې وینا وال را منځ ته شول چې رښتیا هم زموږ د راتلونکي تاریخ د ویاړ سبب کیدای شي او زموږ د دغو وینا والو او د قلم د خاوندانو د هلو ځلو برکت و چې زموږ د مقدس جهاد دغه اړخ خوړا پیاوړی او غني شو.

که څه هم زه ځان د ګران هیواد د تولو شاعرانو او لیکوالو په دله کې ډیر کوچنی بولم، خو څه چې مې لیکلی دي هغه د خپل اسلامي احساس په توګه خپل مجاهد ملت ته وړاندې کوم او په دې ویاړم چې د جهاد په دې موده کې مې دا دوهم جهادي اثر دی چې د اشعارو د مجموعې په توګه یې چاپ ته سپارم چې البته زما لومړی اثر دوینو د فوارو په نوم یو ځل چاپ شوی او دغه مجموعه د « بموږ او غموږ » تر سرلیک لاندې د درنو لوستونکو مخې ته پرته ده ، البته که کوم ادبي نیمګړتیا ولري ما به وبخښي . په پای کې د دغې مجموعې د خطاطۍ په چارو کې چې ګران مجاهد ورور سید قاسم چکنوری کومې هلې ځلې کړي دي زما د زیاتې قدردانۍ وړ دي او په دې توګه دغه مجاهد ورور ته د جهاد په چارو کې د زیات بریالیتوب هیله کوم او د لوی خدای (ج) له حضوره څخه زیات

اجر ورته غواړم، د ګران افغانستان د بشپړه خپلواکۍ -
او په خپلواک افغانستان کې د ټول مسلمان ملت په خوښه د
اسلامي نظام د ټینګیدو په هیله .

والله الموفق

څیړنمل محمد عارف غروال

د وطن باده په زخمي زړه ملهمونه کېږده

د مسافرو په وطن کې قدمونه کېږده

راوړه وطن نه د دردمنو پیغامونه راوړه

د بې دردانو په سینو باندې زخمونه کېږده

# خدایه!

خدایه ستا په نوم پیل کړی مې جهاد دی
ستړی شوی په مخ افغانستان کې لوفساد دی
نه که مړ شم خو دا ژوندمې ابدي دی
په دې لار کې سرباز ل نه ما مراد دی
په دې لارکې ته مدد راسره وکړه
تاته ژاړمه او تاته مې فریاد دی
غلامي د کفر کله قبلوی شم
پیدا کړی تا انسان خدایه آزاد دی
سر دې ولاړ شي د آزاد ژوندون له پاره
آزادي د انساني ژوندون بنیاد دی
ستا رښتیني بندګان نن نا قرار دي
پرې راغلی چې د سره کمونصیاد دی
حق پر کفر غلبه کوي غفور الله!
پوره شوی ستاد هیلو اوس معیاد دی

۱۳۶۷/۲/۱٤ بیماري کالوني

# مبارک مولود صلی الله علیه وسلم

داستا په مینه به خپل سر کړم قربان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

—

زما د زړه مینه یوه ده بدلیدلی نه شي
مینه مې اور نه هم توده شریدلی نه شي
دا هغه مینه ده چې لوړی بدلولی نه شي
دا هغه مینه ده چې بله ځایولی نه شي

ما په دې مینه ازمایلی دی خپل ځان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

ستا مینه څه ده د لوی خدای د بندګۍ مینه ده
دا مینه، مینه د انسان د آزادۍ مینه ده
دا مینه خپلو کې د مینې او ورورولۍ مینه ده
د حق په لار کې د خپل سر د قربانۍ مینه ده

دا ستا په مینه شول پیدا ځمکه آسمان رسوله !
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

تا په تورتم کې د ژوندون ديوه روښانه کړله
تا کږلېچونو کې ديون لاره آسانه کړله
تا د جبارو، مستکبرو ماڼۍ ورانه کړله
تا په شغلو د وحدانيت نړۍ روښانه کړله
د ژوند بهير دې کړ په سمه لار روان رسوله[۲]!
ستا له نامه نه صدقه شه تول جهان رسوله[۲]!

ستا مبارك مولود په ژوندکې ستر بدلون راوستو
خوږو وروته يې وحدت او پيوستون راوستو
له شقاوت او سرکښۍ نه يې بيلتون راوستو
د حق په مينه يې له حق سره شرون راوستو
تياره کوټو نه شول د حق په رڼا روښان رسوله[۲]!
ستا له نامه صدقه شه تول جهان رسوله[۲]!

د خدای بنده د بندګانو بندګي پريښوده
آزاد انسان د انسانانو غلامي پريښوده
انسان د حق په لور د يو بل تباهي پريښوده
د نيا تورتمو تاريکو ظلماني پريښوده
په انسانانو خوروشو ديندان رسوله[۲]!
ستا له نامه نه صدقه شه تول جهان رسوله[۲]!

حق :

نن پوځل بيا انسان انسان باندې ظلمونه کوي
وحشي انسان له حق منکر دی وحشتونه کوي
امن ، سکون له منځه تللی دی جنګونه کوي
دهکيو نيم پيرلان ، جنايتونه کـــوي
مقابلې ته دې ولاړ ستا پيروان رسوله ! ۲
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله ! ۲

روسي وحشيانو د نړۍ د بنګيل تګل کړی دی
دې ملحدانو د نړۍ په مخ اوريل کړی دی
دعو خرسانو د ژوندون پر ضد عمل کړی دی
لو پيشت لو پيښت ټکه يې دظلم جور غويل کړی دی
هدف يې دادی چې نابود کړي انسانان رسوله ! ۲
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله ! ۲

د دې وحشت مقابلې ته افغانان ولاړ دي
که وسله نلري ، خو ټينګ پخپل ايمان ولاړ دي
د خدای په مينه دجنت په ستراړمان ولاړ دي
د سپرو ملې د قربانۍ په سپين ميلان ولاړ دي
مجاهدين دي د بدر پهلوان رسوله ! ۲
ستا له نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله !

یقین مو دا دی یا به مرو یا کامیابیږو موږه

په ټینګ ایمان به خپل هدف وته رسیږو موږه

ستا د ارشاد له مخې به بشپړ کړو شپې موږه

په مخ روان یو که بیرته راستنیږو موږه

عزوال دګوند د آزادۍ په ارمان رسوله[۴] !

ستا له نامه صدقه شه ټول جهان رسوله[۴] !

۱ / ۸ / ۱۳۶۶ ، کمالدین

حق ته تسلیم شه د حق په خوا شه

سرکشي پریږده دځان دوا شه

سرکښي انسانه ځان دې تباه کړي

ځان په غم کې لې په ژړا شه

افغان ګل ۲۲ / ۱۰ / ۶۲

# د بشریت د لاسبودیه وړاندې

د خپلواک ژوند ورن نسیمه راچلیږه راچلیږه
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

په امت دي تور ه شپه ده پرې وربېږي سره اوږونه
انسانیت کندو بار کړي مرگ او ترږبله ده ویرونه
نن هغوي په ویر پراته دي چې په لوئي قربانیږي
خپل وطن د ګې تربیت پاتې پرې شول دوك پرديي ملکونه

خدای نه دا تمنا وکړه ( په امت مې ورحمیږه )
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

ستا د دین د بلې شمعې پتنگان نن لوليه شول
ستا د پاکې حقې لارې پیروان نن لولیه شول
په نامه دې چې نازیږي چې په دین دې قربانیږي
خدای پرسته حق پالونکي افغانان نن لولیه شول

نو باران د رحم وفضله راوریږه راوریږه
د اسلام د آسمان لمره راخلیږه راخلیږه

موږ د خدای د دین له پاره خپل سرونه نذرانه کړل
دښمنانو مو کورونه په بمونو ویرانه کړل
په خوابه وطن مو جوړه د غمونو کربلا ده
هست او بود مو ستا په لار کې له یو مخې شکرانه کړل

دنیا تو له تیاره شوې د حق نوره ځلیږه
د اسلام د آسمان لمره راځلیږه راځلیږه

چا وطن نه کډه وکړه څوک مورچلو کې جنګیږي
د چا خونې کنډوالې شوې څوک په سره اورکې اوسیږي
څوک جیلونو کې وراسته شول ترینه ډکې جیلخانې دي
څوک ژوندي په خاورو ښخ شول څو وحشت دې تیریږي

ستا د سر قربانۍ غواړي، نو غرو اله روانیږه
د اسلام د آسمان لمره راځلیږه راځلیږه

۱۴ / ۹ / ۱۳٦٤ کبابیان

# دحق رڼا

تور تم د جهل په دنیا حکمراني کوله
ظلم، ستم و د انصاف عدالت ځای نیولی
باطل د حق پر ځای په خلکو واکمني کوله
د پیر خدایانو و د حق او وحدت ځای نیولی

د حق رڼا ته چا په زړونو کې ځای نه ورکاوه
انوار د زړه چراغ کوم عابد د پاسه نه او ربدل
څراغ د وحدت ته چا کورونو کې ځای نه ورکاوه
د چا سر و نه دي خدای حضور ته نه ټیټیدل

د خدای بنده د بندګانو بندګي کوله
د ظلمونو، وحشتونو او فتنو دوره وو
د خدای جهان کې ځینو خلکو غلامي کوله
د جنګ جګړې او دښمنیو، تریګنو دوره وو

د شپې له کیږدې په توره تم کې لمر راوختلو
عرب، عجم یې کړل رڼا بتکدې ورانې شولې
د حق په غیبن کې نوراني بشر راوختلو
د عیش او نوش او خرافات میخانې ورانې شولې

د غړنا د حق رڼا وه د مکې په غېږ کې
تولې دنیا ته یې د نور پلوشې رسیدې
او پتنګان ترې کړې طواف د مدینې په غېږ کې
چې بحر و بر ته یې د حق زمزمې رسېدې

د خدای مخلوق ته د نجات او د خلاصون زیری شو
خیرالبشر په مرحلو کې سرلوړ مسلمې
عروالزین یمنې په ژوند کې د بدلون زیری شو
د خدای نیازبین تولو نبیانو کې امر مدنې

کبابیان ۲۵ / ۸ / ۱۳۶۴

خوشحاله نه یم خو چې پایم په جهان کې
قربانیو ته به ولاړ یم په میدان کې
د وجود هر یو اندام به صدقه کړم
د سر ویره زړه کې نشته د افغان کې

# د حقيقت اسرار

څوك خبر د حقيقت په پټ اسرار دي ؟
چې نصيب کې فايدې دي که اضرار دي ؟
چې کابه شول فلک زنبول په غيږ کې
څوك چې سر وو د ظلك د سترګو خاڼي
چې د جم په شان به تل په ملاکانه وو
برصيصا په شان د بې لايق د ناري
حقيقت ته رسيدل صداقت غواړي
صادقان ښکلي ګلونه د ګلزار دي
الهي انوار په مغو باندې اوري
چې څوك نه دروي روان په سمه لار دي
څوك په مينه د دنيا کې ليوني شول
څوك هم مست په محبت د ګردګار دي
په ګريوان کې دې سر ښکته کړه غروالہ!
چې دې څه شي زنيولي په بازار دي.

۱۵ / ۱۰ / ۱۳٦۲ پښاور

افغان کالوني

PROPERTY OF ACKU 670

# د دین قربان

چې د دین لارکې شي قربان له هغه چا نه قربان
چې توره شپه له منځه وړي هغې رڼا نه قربان
چې لا تر اوسه د حسین (رض) په پاکو وینو سور دی
هغه میدان د معرکې د کربلا نه قربان
چې سر یې ورکړه حق د دین شمع یې بله کړله
د سترګو تور د زړه ټوټې د مصطفی (ص) نه قربان
چې له هر څاڅکي یې د وینو سیلابونه جوړ شول
نور البصر د فاطمې بي بي زهرې (رض) نه قربان
چې پیاله یې د خپل سر په ورکولو وکړه
په پاکه لاره کې له داسې ابتداء نه قربان
چې لا تر اوسه پدې لارکې ورکوي سرونه
د افغانانو د سرونو له سودا نه قربان

غږواله ! مونږ ورته وایو شوندې وګټلو
ښکلي امام پسې له داسې اقتدا نه قربان

۲۰ / ۶ / ۶۶ کتابیان

# د قرآن لمن

تا چې د دنیا د سترشیطان لمنه ونیوه
ما د خپل رحیم د خپل رحمان لمنه ونیوه

تا چې د وطن د خزخولو پلان وتاړه
ما د حق د لارې د میدان لمنه ونیوه

ته د روس بچې وې د باد ارغیږې ته ولویدې
ما په دین مبین د خپل نعمان لمنه ونیوه

تا چې د دښمن ټانک، طیاره وطن ته راوستل
ما په مقابل کې د ستدان لمنه ونیوه

د غه نتیجه ستا د وحشت نه ده نو څه شی ده ؟
وینو د شهید چې د آسمان لمنه ونیوه

ستا د بربریت او د وحشت څرګندې نښې دي
اوښکو د یتیم چې د ځکریوان لمنه ونیوه

ستا دین دښمني ، وطن پلورنه هرچا ولیده
غبن د مجاهد د ټول جهان لمنه ونیوه

زه د خپل وطن په پاکه میته خپل شړوندون کوم
ځکه مې د ګران افغانستان لمنه ونیوه

خان دې ژاړنه هیر شي که وطن به هیر و مه زه

دې د اشو مې نن د هر افغان لمنه ونیوه

دغه لوی دښمن په اتحاد سره ماتیږي به

ځکه مې د وطن د هر یو زوړ او ځوان لمنه ونیوه

ټینګه یې کړه لاس کې واخلې چې څیرې پرې نه دي

نن چې دې غروله ! د قرآن لمنه ونیسه (۱)

۱۸/۱۱/۱۳۶۲

اظهار کالوني

په ورور ګلوی کې نغښتی ژوندون دی

ځانګړي ژوند کې پروت ځیګرخون دی

هغه قامونه تل برمالي دے

چې نه یې ست روزګاې په پیوستون دی

۲۲/۱۱/۶۳ د اتحاد دفتر

---

(۱) د «لمنه ونیوه» د شاعري په لړکې .

# د حق د میدان شهیدته!

د حق میدان کې شوې په حق لار قربان شهیده!
هیڅ به مې نه شي زما ورور زما افغان شهیده!

د ټانک او توپ مقابله کې په ایمان جنګیدې
په قربانۍ باندې دې وياړي مسلمان شهیده!

د حق په لار کې که شهید شوې څه پروا نکوي
په پاکو وینو دې ناز یږي ټول جهان شهیده!

ستا له هیبته په روسانو زلزله ګډه ده
ځکه لړزیږي او لړزیږي پاس آسمان شهیده!

نارو د الله اکبر دې زلزلې جوړې کړې
د وینو ستا څکونه دې جوړ شول توپان شهیده!

د بې قامر پلورونکي ملحدان دې له کونډو لاندې کړل
ځان دې ګرو وصل له رحمت د پاک سبحان شهیده!

د غروال غرونو کې د سرو وینو ویالې بهیږي
ګروندې سرې دې اوړی سور هر بیابان شهیده

۹ / ۸ / ۱۳۶۲ پېښاور

افغان کابلی

# دافغانانو نوروز

د نوروز هوا راوالوته وطن کې
بیا به سره ګلونه ترشي په چمن کې

د وطن دښتې بیدیا به لاله زار وي
خوشالیار به لیدی نه شي په ګلشن کې

چې میلې به د نوروز پکې کیدلې
اوس د اوربمې وریږي دې مسکن کې

د سخي روضه په وینو باندې سره ده
یو هیجان دی پیدا شوی هر بدن کې

د افغان په خونه اور دی لګیدلی
وینه جوشي په هر زړه او هر تن کې

اسلامي انقلاب ځي پر مخ روان دی
د خپل خدای (ج) حضور ته ځو په سره کفن کې

الهي انوار پر مخو باندې اوریږي
چې د حق ناري وهي په ځنکدن کې

دا خپل سر به د خپل دین په مینه وکړم
شم قربان به د وطن پاکه لمن کې

خدای (ج)، د هغه چا ملګری دی غرواله!
چې مسیر ترې غلط نه شي په رښتن کې

۱/۱/۱۳۶۲

افغان کالونی

ځاځکي ځاځکي وینه مې د دین په مینه تویه شوه
مړ شوم مورجانې د ذبیح په لاره روان یمه

سر د پښتون سرخو قربانۍ ته پیدا شوی دی
سر نه چې تېرېږي نو هغه مرد میدان یمه

ما د قام په مینه چې ځانګو کې ښه زده کړي وو.
هو دې کړپر ځانګو مورې هو د من زوی د افغان یمه

# د ښمونو باران

په وطن مې ننراغلې بوڅشي شانته دوران دی
کور مې پروت دی لوټې لسو نې د ښمونو پرې باران دی

زړه وتلی یم میدان ته قربانۍ مې وظیفه ده
په پښتون زړګي ځکه شوې خدای ورمینه پښتنه ده
د ایمان په زور جنګیږم له خپل دین نه قربانیږم
بس د خدای (ج) په مینه مست یم عقیده زما وسله ده
ځکه نن مې قربانۍ ته حیران پاتې درست جهان دی
کور مې پروت دی لوټې لسو نې د ښمونو پرې باران دی

خیر که ورانې مې کلې کورشي، خو اسلام دې راشروي
چې د خدای حضور ته ځم دا انعام دې راسره وي
زه تر هغه به جنګیږم څو چې سترګې مې غړېږي
چې تاریخ پرې افتخار کړي داپیغام دې راشروي
ټینګ مې هوډ دی ټینګ مې عزم ټینګ په زړګي مې ایمان دی
کور مې پروت دی لوټې لسو نې د ښمونو پرې باران دی

نن زما ښکلي ګلشن ته کړاغلی سړ خرسان دی

که په سرو ګلو ګډ شوي نن بدمخي بدکار غلان دي

دا به هضم چېرې نه کړي دا میراث د شازلمو دی

دلته یو مخ پاخېدلي، پاریدلي شنه زمریان دي

قربانه ته راوتلی نن له خېبره ټول افغان دی

کور مې پروت دی لوټي لوټي د بمونو پرې باران دی

دلته هر یو محمود دی، دلته هر ځوان میرویس خان دی

دلته هر کس لېچې کړې ده هر یو مشر خوشال خان دی

د هر ځوان مټو کې زور دی، د هر ځوان په سر کې شور دی

هر سنګر یې وینو سور دی په دړزا ځمکه آسمان دی

غروال سرلاس کې نیولی مخ په وړاندې ځي روان دی

کور مې پروت دی لوټي لوټي د بمونو پرې باران دی

د پکتیا ولایت ۱۳۶۳ / ۴ / ۴

د کوچ خوسوم د غره لمن . د زندو ورشو

د غروال بانډه

# دغیرت شمله

زماملته مجاهد او مسلمان ملته !

توله نړۍ کې ننګیالی او قهرمان ملته !

ستا له غیرت ستاله میړانې نه قربان شمه زه

سر دې خدائی (ج) تل لوړ مخ پورته تر آسمان ملته !

ځکه لوړ یږي ستا د توری هنګامې پورته دي

زما تش لاس یه، خوغازي مردمیدان ملته !

ستا د غیرت شمله دې خدای مدام اوچته لري

پر تا بر مشه هیڅ دښمن په دې جهان ملته !

د شهید سرو وینو کې ستا د بري زیری پروت دی

سرورکوي دا ستا په مینه هر یو ځوان ملته !

دا ستا په دین او په وطن باندي مین بچیوړي

نه په سر بند دي نه ویریږي له زندان ملته !

دا ستا په غیږ کې لوبیدلي رالوي شوي ځوانان

غروال پریږ و یاړي تل دې یاوي دغه زیړان ملته !

۱۳۶۳/۷/۲۰ افغان کالوني .

# نړیوال غل

ن زما ښکلی وطن کې چې مړغښ بل دی
ښځه، ن، لوی او وړوکی ټکې دل دی
د غاد یا نو غلیلې دیې او نار بې دي
هر یو ځوان مې جور دښمن لره اجل دی
زما مینه کې ورانیږي پاك یې نښته
له دښمن ځنی هم ورک دتښتې چل دی
چې ثاني یې د غیرت نشته نړه کې
څو مړه ښکلي دافغان د بیگریه ول دي
دیري په لوی روانږم مړ مخ د روسم
راکیر کړی مې ن ښا نړیوال غل دی
غواړیې نوی ملکونه هم ټکې جلبل کړي
د غه او چې ن زما په خونه بل دی
عاقبت به نړما تام بربالی کیږیې
چې واکمن د ټول جهان راسره مل دی

همغه نام به په قاموسونو کې اوچت وي
چې لیکلی یې د ملکو تر پله پله عمل

خدایه سر د غزوال سینا لار کې قبول کړه
دومره بس په دغه لار کې واستیل دي

۶ / ۸ / ۱۳۶۳ کوزتاکال

رحمن ابن سینا روغتون

بریژنف له دنیا یو ځل ارمانونه
اندروپوف ورپسې بار کړل کاروانونه
د افغان د تورې شرنګ نه دی نوسته دی
چې مسوري یې شول د روسانو څیکرونه

# زما د ترهٔ زوی شهید محمد عثمان په یاد

له سرو سترګو مې چې ومان بنکو رهګا روان دی
سور په وینو یې زړګی د افغانستان دی
قربانۍ زما د قام نه منظوریږي ؟
کله پاتې راتږ وخت د امتحان دی
په بهار کې سور خزان راباندې راغی
که په نور جهان بهار پر ما خزان دی
په زړه ګوټ ما شومان د حق په لار کې
قربانیږي لوبند په اوښکو ګریوان دی
پورته ویږدی ، ښکته وير د نه مرخواره نوی
ځمکه ریږدي په ژړا ورته آسمان دی
د غوږ ي د کور د تا په نتيجه کې
راته جوړ له سکران وطن ځنې زندان دی
هر افغان مجاهد پلار په ویار ولاړ دی
شوری خاوروته روان محمد عثمان دی

چې غــروال د شهيد سرو وينو ته گوري

حقيقت کې يې هر شا ته کې ني توپان دی

پښاور ۱۳۶۲ – ۱۲ / ٤

افغان کالوني

دا څه وحشت دی څه بربريت دی ؟ ؟ ؟

څه سپيتوب دی څه انسانيت دی ؟ ؟ ؟

زما ځوانان چې په اور لمبو ـــکمل ؟

د کمونيزم دا عدالت دے

# تول جهان وهي په بده

انسان چې شي بې لارې انسانان وهي په بده
انسان ورته لا شي دی تول جهان وهي په بده

په ستر ګو باندې پوند شي تورا و سپين ورته پوښانې
ګڼ خپل وي کړی واړه پوښان وهي په بده

تميز د سړی او بد کو لای نشي بې تميز شي
دا څکه د ځان بولې او آسمان وهي په بده

په خوله د عدالت نارې وهي خوی د شيطان کړي
شيطان ورته عاجز شي شيطانان وهي په بده

قانونونه کې پوخ شو ته مکروب چېرې پيدا کړي
د خپل غرض لپاره عهد ، پيمان وهي په بده

بس خپله هستي غواړي د قانونو په نسبتي کې
په وخت د ضرورت خپل غلامان وهي په بده

دا څرنګه دوستي ده چې په دوست هم زړه نکړي
نشه د لېونتوب کې خپل دوستان وهي په بده

ته کی چا مردار کړ او لعین چا ، چا نزاري کړ؟

اخر به دا بې دینه پرچمیان وهي په بدو

ببرک اې روسپمله ! ته لا اوس هم نه پوهېږې

ته رد رد ورته کوري ستا یاران وهي په بدو

ستا هم هماغه لار ده چې یاران بې پرې روان شول

ډېر ژر ده چې به تا او ستا خپلوان وهي په بدو

غروالهٔ دوحدت رسۍ ته را چوه لاس سته

دښمن د بشریت افغانستان وهي په بدو (۱)

۱۳۶۳/۹/۲۶ کندهار کابل

نښتي او لمنځې په وینو سرې دي

لوېږي شوروي دا ورلسمبي دي

لښتي د وینو پکې بهېږي

که غرونه ، سمې او که درې دي

---

(۱) د «وهي په بدو» د مشاعرې په لړ کې.

# یوکیږې ولې نه ؟

آسمانه ! لاو لاړې ـ ړنړیږې ولې نه ؟
په حـال د دې ملت باندې ژړیږې ولې نه ؟
ته وینې چې زمـا په وطن جوړه کربلا ده
له وینو د شهید مې لامبیږې ولې نه ؟
دښمن د بشریت مې کور او کلی لولپه کړ
دې اور د تناره کې ته سوزیږې ولې نه ؟
اې ځمکې د افغان چې شپه او ورځ په تا لړزه ده
دې دومره ډزو او درونکو ډزانیږې ولې نه ؟
زما تنکي ځوانان د اور دیګ کې نیني کوي
جهانه ! زما غم باندې دردیږې ولې نه ؟
بمونه د ناپاکو مې په غروغو ژوړسینه یې
یونو ! له دې وحشت ځنې خبریږې ولې نه ؟
زمـا مسلم ملت د خدای (ج) په مینه باندې مست دی
د ټول جهان مسلمه ! بیداریږې ولې نه ؟

ښاروونه او بیدیاوي د وطن مې کنډواله شوې.

فلکه ! له دې ظلمه ستومانېږې ولې نه ؟

یتیم د ترمو اوښکو په سیلاب باندې لاهو دی

ظالم له شهکاله (؟) ستړی کېږې ولې نه ؟

ته چا په ګونډو کړې یې لږ شانته فکر وکړه

د خدای، رسول، د ښځو د اشهیدو (؟) ولې نه ؟

زما ننګیال ملته ! چې د توږې سیل دی نشته

وا خه بلا راپریوته یو کېږې ولې نه ؟

مقام د ریاست ته خدایه ! یو رهبر پکار دی

د ځان په سود او زیان باندې پوهېږې ولې نه ؟

غرواله ! کچکول وا خله مرهم شته (؟) پیدا دي

په غمو د خپل ولس باندې ګډ ېږې ولې نه ؟

۱۸ / ۱۱ / ۱۳۶۳ افغان کالونی

شپې ٤ بجې

## د رحمان بابا په مزار

# غمرشپه

منګاني د ویې ژرند په مرقدم دیے
د ګلونو کاسې ډکې له شبنم دیے
د وطن په ګلو بیا پسرلے راغی
په اندیل کې ګل تومبلي بیا صنم دي
بلبلان د خپل بابا له مزار چو رلي
راز و نیاز یې خوږ و زړونو ته ملهم دي
ما ځولید ده غوږلې خپل بابا ته
هغوادوال مې چې پراته په لوی ماتم دي
زمـا باغ باندې خزان دی بهار نشته
بلبلان زما د باغ اخته په غم دي
زما ورونو اې زما غمشریکانو!
د دښمنان مې ورکاري لره اړم دیے

زما مینه ورانو یے باغونه سو څي
خدای زړونه د هرچا کرم کړم دي

شاو خوا ته مي نظر دی وطن ټول زړم
څوک له مانه دي بېزار څوک مي همدم دي

زما زړه نن د غمونو خزانه ده
جوړ غمونه مي له غمه مرهم دي

نه پوهیږم چي انجام به زما څه وي؟
تکلیفونه کړاوونه دم په دم دي

د غم شپه به آخر تېره شي غږواله!
د جهان د شعر کوکې په عالم دي

۷ / ۱ / ۱۳٦٤ کبابیان

# خپل تاروغ پلار ته

پلاره ستا له سپینې ږیرې نه ځاریږم
ته چې پروت یې بستره کې زه کړیږم

دا وطن و تا میراث راته سپارلی
اوس ورانیږي په هیڅ چل یې نه پوهیږم

ستا شلخي ټوپك انگریز ته ماتې ورکړه
ستا میړانې او همت ته حیرانیږم

چې تاریخ یې پرې افتخار کړي هغه ته یې
زه به کله ستا مقام ته ورسیږم

زه چې ځان او ستا تاریخ ته نظر وکړم
پخپل خدای ئې باندې قسم خورم چې شرمیږم

هغه کور چې ستا په زیار و آباد شوی
ویجاړ پروت دی ورته گورم او خوږیږم

کاشکې ستا مټو کې بیا ځواني نه دوای
کمزوري ته چې دې گورمه شړیږم

ستا په زړه کې نفاق او شقاق نه و

زه په اور د تربګنیو کې سوځیږم

ستا د وروره د وحدت او د یووالي

زه تنظیم او پارټ بازیو کې لوبیږم

ستا دښمن دومره وحشي او ظالم نه و

زه د سره کمونزم وحشت سره ځنګیږم

ستا تاریخ به بیا ژوندی کړم که پښتون یم

زه غزوال له سره تیریم نه ډاریږم

۷ / ۸ / ۱۳۶۳ کوزتاکال

د ملګري ابن سینا روغتون

بیا د زړه د پاسه پند غمونه شول

او سکو نه روان می خپر تو بیونه شول

اور دی په وطن چې را وریږي می

خاوري د پکتیا کې خنګلونه شول

۲۲ / ۱۱ / ۱۳۶۳ افغان کالوني

د مزدور رژیم د تشتې نامه لویې جرګې له امله .

# لویه جرګه

لویه جرګه ده که د غلو جرګه ده ؟
د هیواد پلورو خو مړیو جرګه ده
د غه جرګه ، جرګه بللی نه شي
د خاان پلورنې د مړو بلو جرګه ده
جرګه د خپل قام مسباوون راولي
دا خو د ترورو تو مړو شپو جرګه ده
دا د غلام د غلامی نښه ده
دا کریملین ته د سجدو جرګه ده
دا د وطن د غرخولو تصدیق
د خو ناسدو ارمانو جرګه ده

څو بې وجدانه سره وغږېږي دل
د انسانانو نه ، د سپو جرګه ده

څوک چې انسان وي وطن نه خرڅوي
دا د وحشت د فیصلو جرګه ده

څوک یې مني د غلامانو جرګې ؟
د تېښتو سترګو د کتو جرګه ده

غلام دې خپل بادار ته سر ټیټوي
دغه د سر د ټیټېدو جرګه ده

دغه ارمان به یې پوره نه شي
وطن بیداره د زلمو جرګه ده

کړه پښتنو چېرې جرګه کوله
غروله ! هغه د رندو جرګه ده

٤ / ٢ / ١٣٦٤

افغان کالونی

# د دوا په انتظاریم

په تورو تورو شپو کې درنا په انتظاریم
دا شپه څو مره اوږده شوه د سبا په انتظاریم
غوټه د امید و نو مې د ندر کې شوله مړاوې
د ګل د غوړیدو دیوې مسکا په انتظاریم
ښرا ده انګولا ده ټول وطن کې جوړ ماتم دی
غمونه اندیښنې دي د خندا په انتظاریم
د ګل غوندې وطن کې د بمونو باران اوري
د دې ظلم د پای او انتهاته انتظاریم
هر ځوان مې د وطن په پاک مینه کې مجنون دی
د مینې دې بازار کې د لیلا په انتظاریم
آدمرد د رڅ مینه کې رباب په زنګون ایښی
د فتح سره په ښنګ کې د ډېرا بیا په انتظاریم

زما د ګران وطن دښتې بېدیاوې لړلپه شوې

د خدای ج د امدادونو د بیا بیا په انتظار یم

دښتا ده زلزلې دي جګړه سره وینې بهوینه

د سولې آرام ژوند ښکلې فضا په انتظار یم

د ځان په غم کې نه یم د وطن په غم غمجن یم

زه دې مهلکه مرض ته دوا په انتظار یم

د دین وطن دښمن مې قتل عام دی شروع کړی

چې واخلې ترې بدل د هغه چا په انتظار یم

د خدای ج مدد ښتني ده بري زموږ حتمي دی

داسې یو مشر ، رهنما په انتظار یم

زما غیور ملته ! وخت د مینې محبت دی

د یو مخې یووالي د رښتیا په انتظار یم

داوخت د مشقت دی آرام مه کېنه غروال !

د استا د قربانۍ د سر سودا په انتظار یم

۱۷ / ۴ / ۱۳۶۴ د پکتیا ولایت - د کوچ خرم ځدروطن

د زندو ورشو - دغروال باندې

# غزل به څه ولیکم؟

یمه د وطن په غم غمجن غزل به څه ولیکم
یم په سره اور کې لوغړن غزل به څه ولیکم

چې د وطن بچیان په سره اور کې پراته وینم
را باندې راشي ځنکدن غزل به څه ولیکم

زما د پت، عزت مېرمنې په داګ پرتې دي
ځکه له غمه یم غمجن غزل به څه ولیکم

ما د ناموس په سر خپل سر باندې لوبې وکړې
تر دینه قربان مې دی خپل تن غزل به څه ولیکم

غروال! دا حالت به وي که به انجام وموي
بس کړه د غم دغه ګنتن غزل به څه ولیکم

۵/۷/۱۳۶۴ کورمه مظفرکوټ .

# د وطن په یاد

چې تر مدام پرې نازیدم هغه وطن پاتې شو
زما د سرو ګلو هغه باغ ښکلی ګلشن پاتې شو

چې په نړۍ کې یې مثال د ښایست نه و چیرته
د زړه په وینو مې سمسور هغه ګلشن پاتې شو

باغ بوستان شته، خو بلبلانو غني کړه وکړه
زما د پلار نیکه په بڼ کې زاغ زغن پاتې شو

لکه چې روح شي ترې جدا خالي کالبد پاتې شي
داسې وجود مې د وطن خالي بدن پاتې شو

لکه بلبل چې د ګلونو په ارمان چغېږي
داسې په چیغو او نارو مې مرد او زن پاتې شو

لکه ظالم ښکاري له ښکاره بال او پر وباسي
داسې شهید مې په تخته بې کفن پاتې شو

غروال! بیا دې خه د غم قیصې راوخیستلې
که انتخار چې مرګ د کټ او دبرهتن پاتې شو

۱۳۶٤/۷/۱۱ - پېښاور - بلغراني

# چا د حق د لارې شهیدان راسره وژل؟

چا مې کونډې، بوډۍ یتیمان راسره وژل؟
چا د حق د لارې شهیدان راسره وژل ؟
چا مې اوښکې وچې کړې په ما یې ترحم وکړ ؟
چا مې دې په دې څیرې ګریوان راسره وژل؟
چا دغه وحشت ته د نفرت په سترګه وکتل؟
چا مې لوټه باغ او بوستان راسره وژل؟
سره وحشت د روس مې د وطن ودانۍ ورانې کړې
چا مې په اور سوي د دښت دامان راسره وژل؟
غوټۍ کې د مېندو په سینو باندې غلبیل چې شول
چا دغه تي خوړي ماشومان راسره وژل ؟
چا مې د دښمن ظلم تیرې ته ناروا ووې ؟
چا مې دا زړه ور ځوانان راسره وژل ؟

چا مې په اور سوي کنډوالو کې بوټي وکتل
چا د دین د شمعې پتنګان راسره وشړل؟

چا مې هلې ځلې د حق لاره کې تاشید کړلې؟
چا د غم تش لاسي افغانان راسره وشړل ؟

چا مې ټوټې ټوټې مجاهد په غېږ کې ونیول؟
چا ګڼ دوه مخ چلوکې تېپیان راسره وژړل؟

دا ایوازې زه یم په سره اور کې چې سوځېږمه
نه یمه خبر چې څوکم انسان راسره وژړل ؟

چېرې دي غږوالا ! د مجلس یاران دې چېرې دي؟
چا دا لالهانده شاعران راسره وژړل ؟

۱۸ / ۷ / ۱۳٦٤

# د شهید داودمیر په یاد

که سنگر زما په وینو باندې رنگ شو
خو دښمن باندې مې ژوند هرګوره تنګ شو

زه غازي يم ، مجاهد يم په سنګر کې
دا پښتون سر مې قربان د تمام په ننګ شو

ویاړه ویاړه د افغان غیور ولسه !
چې جهان ته دې ښکاره د توري شرنګ شو

میرزي خیل سر بابلي د وطن لار کې
« داد میر » هم د وطن شمعې ته پتنګ شو

په پکتیاکې د دښمن ښکر ونه مات شول
هر یو څوك چې وه دښمن لره ګډ رنګ شو

سرې لښکرې له پکتیا په ماتې ولاړې
د باباله نرې توری لرې زنګ شو

د غروال له غرونو د غره آواز اوریم
پاتې مرګ د بسترې او د پالنګ شو

۲۹ / ۷ / ۱۳٦٤ بزویر ستي ياسین پیاوړی .

# د ناستو قوماندانانو په یاد

ستا د سرو وینو له هر څاڅکي نه قربان شهیده !

اي د خپل دین د پاکي مینې قهرمان شهیده !

تا د خپل دین او د وطن په مینه سر قربان کړ

ستا په نامه باندې به ویاړي هر افغان شهیده !

نارو د الله اکبر دې زلزلې جوړې کړې

ځکه لړزیږي لاندې ځمکه پاس آسمان شهیده !

د احمد ګل او فتح الله لاره به نه نیولی

چې وو د دین د بلې شمعې پتنګان شهیده !

د استا غوځنګ د توپې شرنګ دښمن ته لارو کړه

وه باندې تنګ دی کې دالوی پراخ جهان شهیده !

دا دمیره ! ستا له پاکو وینو سیلاب جوړیږي

یکې غرقیږي به له خیمې د دښمنان شهیده !

غزوال قلم لاس کې نیولی دی سوچونه وهي

ګوره به یوسي دغه ستا ښکلي ارمان شهیده !

کتابیان ۹/۷/۱۳۶۴

# سور کفن ۲

دا په سرو وینو ګلګون بکفن د چا دی ؟
دا خزان وهلی پروت ګلشن د چا دی ؟

دا د چا په کور کې ویر دی او ژړا ده ؟
کندوالې باندې بدل وطن د چا دی ؟

د وطن غیرتي پیغلې ولې ژاړي ؟
دا په خپلو وینو سور کفن د چا دی ؟

چې غلوق یې شنډ او ولاړ دروي
دا په کور پرته آرمان ډک د چا دی!

چې د مور د زړه ټوټه خاورو ته درومي
دا په دین او په وطن مین د چا دی ؟

چې یې ګل وطن نه جور ته تنور کړ
دا وحشي او دا ظالم دښمن د چا دی ؟

چې بې سواله بې ځوابه ویجاړېږي
دا بې هیلې بې اسرې مسکن دچا دی؟
چې مرکانې دشهید په وینو رنګ دی
دغاټولو په شان سور مدفن دچا دی؟

چې بې دریغه بهېږي دغروال اوښکې
دالرغمراو سوزنه دک ګفتن د چا دی؟

کبابیان ۲۲/۸/۱۳٦٤

زخمي زخمي یم پروت په بستریم
توټې توټې یم پرهر پرهر یم
د دین له غمه د قام په ویر کې
سوی د دوستانو د نړه په سریم

# ګرانه وطنه!

د غم شپې تېرې دي چې تيري په موږ يرغل کړی دی
زموږ په غرونو او رغونو يې اوربل کړی دی
زموږ د ګران وطن هستي يې ړانه ولسته له
د بشري قانون په ضد يې دا عمل کړی دی
خپه يم ځکه چې وطن نه ويرانه جوړه شوه
د دغو ملحدو دا ستر ګڼې آشيانه جوړه شوه

---

په وير کې پروت يم چې سرې وينې بهيږي زما
لوی او واړه د اور بتمه کې سېځي کيږي زما
د دين وطن په مينانو جيلخانې ډکې شوې
تنکي ځوانان ئې په سنګر کې قربانيږي زما
ويرجن يم ځکه چې تباشوم تباکيږم پسې
د ورکاوي په لور روان يم ورکيږم پسې

---

غم دې ماتم دی چې په سره اورکې اوسېږمه زه
د حق په لارکې له خپل سر څخه تېرېږمه زه
د خوب آرام په غم کې نه یم رسته راز لرمه
شمع یم سوځم، خو محفل لره بلېږمه زه
غنچه یم څکه پسرلی مې په خزان بدل شو
له ځانه خوږ وطن مې نن په تور زندان بدل شو

---

په دې پرېشان یم چې شارې کړوندې شوې زما
یا له ځوانانو څخه وکې هدیرې شوې زما
د مندو میږګن ځنګلونه په ایرو بدل شول
داورلمبې په غرو رغو باندې خورې شوې زما
پرېشان یم ځکه چې له ورور ورور سره ورور نه شمه
خلاص به په ژوندکې د نفاق له دې پیغور نه شمه

---

په دې خپه نه یم چې چا راسره ونه ژړل
یا په نظر د ترحم چا راته ونه کتل
د یتیم ترې سترګې اوښکې مې چا پاکې نکړې
د مجاهد ملت زخمونه مې چا ونه کتل
خپه په دې یم چې آخر به څه انجام وي زما
تل به یم داسې دربه در که به آرام وي زما

---

خو، گرانه وطنه ! دا د غم شیبې دي تیرې به شي

که هر څو سختې ورځې شوې دي آخر هیرې به شي

دغه تور داغ به دې لمنه باندې پرېنږدمه

دا ستا خوږې میرې دښمن لره ګنډیرې به شي

غزواله ! تل به د ظالم د غزظلونه ، نه ا

برې حتمي دی تل به د غه وحشتونه ، نه د

---

۱۶/۹/۱۳۶۴ کبابیان

د پکتیا دښتې ، د پکتیا غرونه

د پکتیا پرښې ګڼ ځنګلونه

په اورلمبه شول د دښمنانو

دا څه وحشت دی. دا څه ویرونه

۲۲/۱۰/۶۲ افغان کالوټي

# د سپرلي وطن کې

دا به څوک څوان کاندي قبول د ماغزو وطن کې
چې سر غرسان دې ټوند کوي نن د زړه وطن کې

سرې بادرنګ چې د « جدي » باغچې لولپه کړي
ګلان به کله بیا راشینږي د سپرلي وطن کې

د خدای مخلوق یې چه د خدای په لوی غضب اخته کې
دا څه تعلیم ؤ چې یې زده کړلو د سرو وطن کې

زما د ګران وطن هستي یې راته ولوټله
څې هیواد پلورو سودا وکړه د دښمنو وطن کې

د کونډو، پورو، یتیمانو عاقبت به څه وي
څه به وي څرند د ژړا ګانو او سلګو وطن کې

یو غمرې ندی چې یې ژړا پر هر ځای ماتم دی
دردونه یې پر بل زیاتیږي د دردو وطن کې

شهیدې پروت دی بې کفنه چا نه وژاړه
وینې دي وینې چې بهیږي د زخمو وطن کې

سکلي يې وران کړل کروندې يې راته شاړې کړلې
بمونه اوري هره خوا د ننګيالو وطن کې

د دين دښمن مې بشري قانون تر پښو لاندې کړ
غواړي چې ښکيل عسکري نظام د سيسو وطن کې

اې د دنيا سوله غوښتونکو تاسو اورئ که نه؟
ظلم وحشت دی نن سبا د عظمتو وطن کې

سره سنګرونه د ځوانانو په سرو وينو رنګ دي
دارې داو ښکونه ترکيب دي د بانو وطن کې

د کاميابۍ په لوري روان دي، خو لږ زيار پکار دی،
لږ څه که زده کاندو سبق د تاريخي وطن کې

په خانګانو کې کاميابي څه راته ګرانه ښکاري
څنګه مو هير کړلو يووالی د جرګو وطن کې

زما خوږمن زړه به [illegible] لږ څه آرام مومي
چې واقعي مينه پيدا شي د سيمو وطن کې

غزوال! ټينګ عزم چې وي د څه پروا مکړه
ګل لټوه په لاس به درشي د اغزو وطن کې

۱۳۶۴/۹/۳۰ کابل

دالحاج ننګیال پرخبرو باندي خبري

# د آشنا خبرې

څومره خوږې لګي آشنا ستا د دردو خبرې
دا ستا خبرې دي رښتیا د اروېدو خبرې
ستا په خبرو کې مې پټ غوندې اسرار وموندل
زړونو ته لار پیدا کړي چې وي د زړو خبرې
ستا د ځوانۍ د ځوانو هیلو پکې ځرک وینمه
دغه خبرې دي د ټینګو عقیدو خبرې
ستا عقیده او ستا ایمان پکې له ورایه ښکاري
پکې ځلیږي ستا د تاندو ارمانو خبرې
خبرې نه دي د ملت د سبا رون زیری دی
په توره شپه کې د رڼا او د سپېدو خبرې
ستا دې ارمان نه صدقه شم ترینه وګرځمه
دا د بیدارو اولس، د تن پانو خبرې

خوږو خبرو دې پر وطن کړې چې شهرت وموندو

پر هېڅ نه پرېږدو چې دي دا د سنګيالو خبرې

زړه دې لږ ټينګ کړه چې ټينګار د کاميابۍ نښه ده

راځي دې ښکاري د ساحل د رسېدو خبرې

د نن ملت د نن پاڅون د نن شاعر نن پيغام

موږ ته راښيي د تاريخ د کارنامو خبرې

ځوانه شاعره! ستا خبرې د ژوندون خبرې

د ځوږېدلو، کړېدلو، پرګنو خبرې

دا په خپل دين او په وطن د مينانو اغږور

دا په سنګر کې د غلزي د غورځنګو خبرې

خو:

زما د زړه آشنا په باب دې خيال بدل غوښتلی دی

لږ څه د زړه په غوږو واوره د کليو خبرې

چې دا وحشت له منځه ولاړ شي، څه آرام ومومو

موږ ته پکار دي د خلاصون او بري تلو خبرې

هدف معلوم دى هر ګزار بايد رسا پرې وشي

زما خوښيږي د دښمن د پرزېدو خبرې

دکریملین دې دانه دودانولو گوزار
غـوال ! دغه دي دزرو پښتنو خبري

---

۱۵/۱۱/۱۳۶۴ کابـل

څوك چې جنگيږي د دين په مينه
وركوي سرخپل وركوي وينه
دا سې ځوانان دي مدام ژوندي وي
دا سې مشران دي الله لـه زيـنه

۵/۱۲/۱۳۶۲ افغان كالوني

# دوخت شاعرته!

ماته د سرو بو باران کې ګلان مه یادوه
باغونه لوټ شول نغمه ګوي بلبلان مه یادوه
اوس د باران په ځای په مونږه سرې سکروټې اوري
نه مې بر کښېږي خدای د پاره باران مه یادوه
د ګل سره میلې شوې مېرې د وحشت په لمبو
چې کړي ظلمونه ماته داسې انسان مه یادوه
د سخي جان روضه په سرو وینو کې غرقه ښکاري
د سرو لاله په ګلو مست بیابان مه یادوه
په ګل غونډۍ کې میلې نشته ویر ژړا ده پکې
دې ځای پسې چلګۍ ښایسته ارغوان مه یادوه
د غم پرستن ده خوره شوې د کابل په ځمکه
په ویر پراته مې عاشقان، عارفان مه یادوه
تنکي ځوانان مې د نیپالم د بمو خوراک شول
په کوڅه کې ناست د غم ځپلي ساقي ځوانان مه یادوه

نارهٔ د الله اکبر چې تل جهان لړزوي
دغه نارهٔ چې پکې نه‌ړيږي جهان مه يادوه

د مجاهد د تورې ګوزار د سبا [illegible]
ماته رستم د زمانې دغه آن مه يادوه

زه په تالونو د خوارهٔ وطن د فکر نه ننګم
د بخت شاعره! اوس دې څنې زلفان مه يادوه

د سينګارونو ځای مې نيولی دی ژړا او فرياد
په دنګه ونه سپين چارګل، سره پېزوان مه يادوه

اوس په ګوډو کې د منګيو ځای بموټو ونيو
نيو ماته ګړا او کرشمې د جانان مه يادوه

سپرلی به وي، خو په آزادو ملتونو باندې
پر ما خزان دی راته باغ او بوستان مه يادوه

وخت ديوالي دی دا زړه په سنګر څېرې شه ته
شاعرانو مرګ دی خدای پاره چې ځايونه مه يادوه

غوراله! هر شي دې چې د غوراڼي خپل ځان ته راته
ځان دې اصلاح کړه هسې نور شاعران مه يادوه

۲۹ / ۱۲ / ۱۳۶۴ کابل بهاري کالونی

# د ژوند پسرلی

د سرو ګلو باران کې خوله خندا ته نه جوړېږي
دګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

دا څنګه پسرلی دی چې په ما باندې ماتم دی
ښار ده انګولا ده ټول وطن باندې مې غم دی
شهیدې بې کفنه تورو خاورو ته روان دی
دښمن مې د اسلام له منځه وړلو ته اړم دی

دا څه را باندې شول لا به څه را باندې کېږي
دګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

تباه او برېښنا ده په ما اوري تمدن نه
د خدای په لوی جهان کې له ما مېړشول بهار نه
غازي مې د الله په نوم خپل سر لاس کې نیولی
په تش لاس برزوي د دښمن شر بلې ارتا نکونه

د حق مقابلې ته سره خرسان کله ټینګېږي
دګران وطن په غرونو سرې سکروټې راورېږي

سپرلی به په مشغوري چې خپلواک یې خپل وطن وي
نه مرګ وي او نه ژوبله خپل یې باغ خپل یې ګلشن وي
زما په باغ او بڼ کې د سپرلي څه اثر نشته
زما په شان به چیرې د چا ژوند په ځنکدن وي

په سپین مخ باندې اوښکې دینیم مې چې بهیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

د سره خزان د لاسه مې تالا باغ او بوستان شول
ښاسته ښکلي ګلونه مې نن ترې په بیابان شول
کارغان راغلل باغ چو ته ګلبڼونه یې تالا کړل
په چیغو او نارو باندې محروم ترې بلبلان شول

د حق او باطل جنګ دی ګرګیږي دې چې رژیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

بمونو د ناپالم کندواله مې کلی کور کړې . . . .
د ګل په شان وطن مې سرو وحشیانو راته اور کړ
باغچې مې لوټیه شوې باندې اوري سره اورونه
بې ځښتنو یې دیسی پر مونږ پورې راپیغور کړ

څو سر د افغانیت مې هیڅ زورکېږنه ه ښیمېږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي

یا مرګ دی او یا ژوند دی دا زمونږ فیصله ده
سپرلی به مو سپرلی کړو دا مو ژمنه داوعده ده
دا غرونه دا رغونه به د روی په وینو سره کړو
خپل باغ بوستان به خپل کړو پتیلي مو څخه ده
سپین ږیري او ځوانان له خپل خوانه ژوند نه تیریږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي
که زه نن د شلم قرن وحشت سره جنګیږم
که زه د دین له پاره له خپل سر مال نه تیریږم
که زه نن د خوږ وطن په غم کې لیونی یم
که زه د کفار په مینه سر بایلم، خو ژوندی کیږم
ژوندي وینښ ملتونه له تاریخ کله پټیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې راوریږي
زمانګیال ملته ! توره شپه په تیریدو ده
دا ستا د قسمت ستوری نن سبا په راختو ده
سپرلی د ژوند به راشي خو دا شرط ده عزیزانو
یو والی زمانه غواړي بس خبره د پښتو ده
غروال قلم به لاس کې د وطن په غم تړیږي
د ګران وطن په غرونو سرې سکروټې اوریږي

بلخ ۱۳۶۴/۲/۲۹

# په سنګر کې مجاهد لالي ته!

چې مازدیګر شي د ګودر په لور روانه شمه
په نیمه لار کې ودرېږمه پښېمانه شمه
د زړه دربار د فکر تال مې کړمې خوا ته سرځي
وایم که نه وایمه په دې دوو کې حیرانه شمه

چې د ماښام د تنارو په ژړه خولې خولې شم
د تا له غمه په زړګي باندې اریا ارې شم
هغه ساعت به چېرې بیا په سترګو وینمه
چې دې په غاړه کې امیل په شان دانې دانې شم

چې ما سخوتن سخوب له یاره بسترې ته ور شم
لکه بندي د ظالمانو جیلخانې ته ور شم
په کټ کې اوږده راوږدم سترګې نه پټېږي
کېنمه، پاڅېږمه تر دې چې نیمې شپې ته ور شم

نه مې هېرېږي د واده د ریمه شپه لالیه
هغه د راز و نیاز لحظې یوشېبه لالیه
تا به خندل، ما به مسکل د ستارو ما په هیله
چې به دې غېږ کې اوږدېدمه ګلدسته لالیه

خو

تا په سنګر کې د راتلو داشکو خوا ونیوه
ما په ګاه کې سینه خوله تل په دعا نیوه
ته د خپل دین او د وطن په ننګ جنګېږې هلته
د حق په لار کې حق لار دې په رښتیا ونیوه

زه به په کور کې ستا له پاره کامیابي غواړم
په دښمنانو دې مدام بالادستي غواړم
ګرانه لالیه! وړاندې تګ د کامیابۍ نښه ده
ستا په غورځنګ د دښمنانو بربادي غواړم

خو په سنګر کې محبوبه چې د زړه هېره نشي
چېرې قوه د دښمن دې خواته راتېره نشي
چې داشکه دې کړې ضربه د تکبیر غږ پرې کړه
ګوره په زړه کې دې پیدا له دښمن وېره نشي

د دښمن وینې بهوه د ستر مرام له پاره
چې مو هدف ترسره شي هغه انجام له پاره
غزال دې غواړي کامیابي په دښمنانو باندې
ستا قرباني ده حقیقت کې د خپل قام له پاره

۲۱ / ۲ / ۱۳۶۵ کیلیان، بهارې کالونی
[illegible]

# څرخي زندان ته د يو مهاجر پيغام

تودې اوبه مې د زړه جوش راكمولاى نشي
كمره هوا مې توده مينه سړولاى نشي
توده خيمه كې د تودې دښتې سينه كې اوسم
تاوده باران د وطن ياد هيرولاى نشي

.—.

زه هم د كور كهول ميرمن وم د وطن په غيږ كې
ما هم اوربل كې گل تومبل د خپل چمن په غېږ كې
زه هم د خپل لالي له پاره د ژوندون قصر وم
ما هم د گلو سيل كاوه د خپل گلشن په غيږ كې

خو:

.—.

د غويي پښو مې په ژوند كې بې بدلون راوستو
په هر كاله يې د عمرونو سختون راوستو
وحشي خلقيانو د وحشت اوروونه ولگول
هستي يې لوټ كړې د سرونو يې للون راوستو

د دې وحشت په نتیجه کې رانه کوږ پاتې شو
وجود مې غم او مصیبت کې یکه سکوړ پاتې شو
غوټۍ اوبه شوې د خوږ (اخر) وختونه سیند لاهو کړل
پل خرڅي (کې) د زړه سره ستر ګوتو پاتې شو

---

ماشوم بچی مې راته ژاړي راته پلار غواړي
پوه ورځ نده هر ساعت په بار بار غواړي یې
اوښکې مې سترګو کې دننه شوې نو بوی یې نه شم
د چا له غمه ګریانه ته راته لار غواړې یې

---

باده ! ملګری شه ورځه له هغه باده سره
زړونو کې مینه چې پالې یې له هیواده سره
د پکتیا غرونو ورتېر شه د شرخي زندان ته
زما د زړه رازونه یوسه له فریاده سره

---

ملت زندان کې د وطن په میناتو باسندي
د دین د شمعې په سر مستو پتنګانو باند دي

تو دو خیمو کې د استوګنو سلامونه وایه
د پاکې مینې ببر سرو لیونیانو باندې

—

ملت زما لالي ته هم دا پیغام ورسوه
د مهاجرې محبوبې یو سلام ورسوه
د کامیابۍ په لوري یون دی وار خطا چې نشي
ور ته پیشکش د سپیرو شونډو انعام ورموه

—

۲/۳/۱۳۶۵ کبابیان، ببهاري کالونی

[illegible]

مسافر پروت یم په بل وطن کې
بلبلان خوند کړي په خپل چمن کې
ژړند مې په یادو د خپل وطن دمې
وایم وطن به په ځنکدن کې

۲۳/۱۱/۶۳ افغان کالونی

# سپينې واورې او سرې وينې

په وطن کې مې نن جوړې زلزلې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

•••

څو به د سينو خدای د دښمنو وطن اور کړي
څو به پښتو وطن پلوروونکي بېغور کړي
څو د پردیو غلامانو سودا وکړي
په هر کور يې چې د ظلم تېغ خور کړي

له ښارونو جوړې شوې هديرې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

هیوادوال مې پېژنې چه خوار و وار شول
څوك خوراك د سرو څټك او د لاره شول
څوك د سرو وحشت جيلونو كې او سېږي
څوك كباب په سرو لمبو د تناره شول
څه تاريخ دی څه يادگار څه خاطرې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

...

نن د گران وطن هر كور كې چې ماتم دی
د خوښۍ پر ځای حاكم پر مونږ غم دی
د بخښنه او د گرمه پروا يې نشته
ځوان غازي مې د دښمن ټانګه ته اړم دی
پرې د پاسه د گوليو شيگړې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

...

پاك قرآن په پاك جومات كې لولپه شو
نوی تاريخ مې په هرات كې لولپه شو
د پكتيا ځنګلې يو مخې ايرې شوې
نور او ځوان هزاره جات كې لولپه شو

دغم لري په وطن مو راخوري دي
سپيني واوري دشهيد په وينو سري دي

•••

واوره اوري، خو ګولۍ هم وريږي
سور موسم دی، خو ګومه هم وريږي
پاغونډو په ځای نيپام بمونه اوريږي
که باران شته، خو بزلۍ هم وريږي
دغازي دوينو جوي بهيږي دي
سپيني واوري دشهيد په وينو سري دي

•••

دکوسپو قطبي خرسان راوستل کورته
اوس کرنوي، نوشي ټينګ دي دحق زورته
چي دروس لښکري ونيوه په لاس کي
يو په بل پسي ورځي د دوزخ اورته
په تانکونو يي نن ملي سري لمبي دي
سپيني واوري دشهيد په وينو سري دي

•••

میړني ځوانان پرې خېژي پروا نکړي
لمبې تندې پرې تېرېږي پروا نکړي
له دښمن نه يې د تښتې لار ده ورکه
سره اورونه پرې ورېږي پروا نکړي
په هر لوري د تکبير ناري سورې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

...

د بري په لوري يون دی وطنوالو
بس خو شرط يې پيوستون دی وطنوالو
کاميابي ده په يووالي کې نغښتې
نو پکار ملي تړون دی وطنوالو
د غروال د غمجن زړه دا انديښنې دي
سپينې واورې د شهيد په وينو سرې دي

١٧/٩/١٣٦٥ کابيان

د "ګرځي راګرځي پکي" دمشاعري په لړ کي

# پسرلني ورځي

" خيال مي صحرا ده بربوکه ګرځي راګرځي پکي "
بس يوه مينه ليونۍ ګرځي راګرځي پکي

دزړه په غولي مي دغم رسالي بيا پنډي دي
توره تياره ده ديوه ګي ګرځي راګرځي پکي
دخيال مارغه مي خدائ خبر چي کوم خوا ته بيايي
د فيل چپاو دی توتکۍ ګرځي راګرځي پکي
خزان وهلی باغ د بيا غوړيدو طمع لري
خولا تو اوسه سرې سيلۍ ګرځي راګرځي پکي
دا چي ژوندی يم ژوندی اميد په زړه کي لرم
پته رڼا دخپلواکۍ ګرځي راګرځي پکي

وطن مې لوټې لوټې پروت دی د ظالم د لاسه
د سرو ټکولیو سره بلمه ګرځې راګرځې پکې
د خدای (ج) د مینې پتنګان په سرو لمبو ګډېږي
د حق میدان دی سرې سپرغۍ ګرځې راګرځې پکې
لوی انسانیت دی د لوی خدای د خوشالۍ له پاره
ځکه پښتنې ککرۍ ګرځې راګرځې پکې
چې هیڅ زورکېر ته په هیڅ وخت کې تیټه شوې نه
دا بدالي غیرت پګړۍ ګرځې راګرځې پکې
داو د سرونو وهل کېږي د ناموس له پاره
یوه آرزو د ورور ګلوي ګرځې راګرځې پکې
بوی بندې دی د امید غوټۍ هر کل شي آخر
خوږې وږمې پسرلنۍ ګرځې راګرځې پکې
نن که د سرو د لاسه سرې وینې بهېږي زما
تو پاڼې شوې یې بېرغه ګرځې راګرځې پکې
سبا به سره په سرو لمبو کې د خپل ځان سوځېږي
دا خاطره مې پروني ګرځې راګرځې پکې

ستنګي د حق مې د شهيد په وينو سره ځليږي
ياد د ذبيح (ع) د قربانۍ کړي راګرځي ښکي
غزوال د دين او د وطن په غم غمجن دي ځکه
تر قيامته سوي او بشوله نړيوال کړي راګرځي پکي

ګلاب ... ۱۳۶۶/۱/۶

خدايه آزاد کړې زما وطن شي
آرام به روح شي آرام به تن شي
هغه به خندګه د خوند ساعت وي
چې غزوال پورته مغ په رفتن شي
۶۲/۱۱/۲۴ افغان کالونۍ د پشي ووه نيم بجې.

# د تکبیر چیغې

"ورك حواس د ورکو دستم له زوره مه پوښته"

لوټې لوټې پروت دی ما د پلار له کوره مه پوښته
سره شفق ته گوره ترجمان مې د سرو وینو دی

او ښکو ته یې گوره د زړه حال له موږه مه پوښته
ورور دې په مورچل کې د نیپام د بم خوراك شولو

خور د حق سنگر کې لرخپل ورکه وروره مه پوښته
څوك چې گران وطن یې د ظالم په اور لوخړه شو

مه پوښته دا خلك د دوزخ له اوره مه پوښته
حال مې کړ زبون دی، خو ایمان مې پیاوړی بی

سره سکروټه گوره دایرو او سکوره مه پوښته
نن چې نړیوال گوتې په غاښ حك حیران پاتې دي

عزم ته یې گوره له اوبده او پسوره مه پوښته

پاتې به یادګار مې دا یرو بې مثله خلی دی

مینه د اسلام او د وطن هر ګوره مه پوښته
ما د سره بیره قطبي خرس په ګوندو کړی دی

ګوره قرباني مې د زړه حال مې نوڼ مه پوښته
دا د حق اواز دی چې زړه کې انګازې کوي

چیغې د تکبیر مې د غازي له شوره مه پوښته
خدای (ج) سره چې کړې مې وعده ده پرې ولاړ یمه

سر تری غوځوم نور مې له سر او توره مه پوښته
رهي به منزل ته اعتماد چې کوم اولس کې وي
مه پوښته غروالله ! له نفاق، بیخوږ مه پوښته

۲۹ / ۲ / ۱۳۶۶ سبایان

ژوندرانه سوه او رشو سرې سکروټې شو
غم د ګران وطن مې کوټې کوټې شو
سرې وینې بهیږي په توپونو کې
څکه طبیعت مې وره ته ختې ښو

۵ / ۱۲ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

زما د تره زوی شهلت په یاد

# دقهرمان شهید اکبرخان په یاد

په ننګ غیرت دې کړي فخر افغانانو شهیده
له سر تېر شوي اکبر خان شهیده

د پکتیا غرونو کې زلزلې جوړې دې
ستا له سرو وینو ویالې جوړې دي
د دین دښمن ته لاره ورکړه شوله
په غرو رغونو کې یې ناری جوړې دي
د تکبیر غږ دې لړزوي ځمکه آسمان شهیده
له سره تېر شوي اکبر خان شهیده

تا پنځه دین او وطن ننګ کړی دی
وطن دې کفن باندې تنګ کړی دی

د دوزخ اور ته دې لېږلي دي دېر

په کوم سنګر چې تاغورځنګ کړی دی

قوي دې عزم اراده وه تپنګ ایمان شهیده

له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

ته کړان وطن ته د خلاصون زیری شوې

د توري شپې د سبائون زیری شوې

لوړے اورا په دربانديې فخر کوي

د مسلمانو د ژوندون زیری شوې

هېر به مې نشي څرچې پایم په جهان شهیده

له سره تېرشوې اکبرخان شهیده

څوک چې شهید شي د اسلام په نامه

یا چې سرورکړي دخپل قام په نامه

د وینو څاڅکي یې رڼا راولي

چې شي قربان د سترمرام په نامه

ورځ خرجوړشي د تاریخ سترقهرمان شهیده

له سره تېرشوې اکبرخان شهیده

ستا له غیرته دك زړګي نه قربان
ستا د یتیم واړه بچي دې نه قربان
چې د دښمن په سنګرونو خېژي
په دین مین داسې زمري نه قربان
ستا پاکې وینې به دښمن ته شي توپان شهیده

له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

د زړه ټوټې نورالبصر شهیده
د پښتنې مور د زړه سر شهیده
د پاك ایمان د عقیدې له پاره
غلبیل غلبیل دې شو ځیګر شهیده
ستا مبارك دې د جنت حورې غلمان شهیده

له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

ستا د سنګر هر یو غازي ته سلام
ځوان مجاهد تنکي ځلمي ته سلام
چې یې سینه دښمن ته ډال نیولې
د وطن د غرمیرني ته سلام
غزال دې غم کې ګرځي څیرې ګریوان شهیده

له سره تېر شوې اکبرخان شهیده

۱۳۶۵/۱/۲۴

# د وطن ترانه

ټول به مونږ په لاس کې تول له خپل وطن قربان يو
مونږ مسلمانان يو مونږ مسلمانان يو

---

دا زمونږ ګلشن وطن
دا زمونږ عدن وطن
دا زمونږ ختن وطن
دا زمونږ ختن وطن
سر به ترينه جار کړو که واړه يو که ځوانان يو
مونږ مسلمانان يو مونږ مسلمانان يو

---

نه پرېږو دو غدار دلته
نه پرېږو دو بدکار دلته
کم ستر يو بيدار دلته
کم ستر يو بيدار دلته

ستوره چلوو، تل، سربښندونکي افغانان یو
مونږ مسلمانان یو     مونږ مسلمانان یو

—

مونږه آزادي غواړو
مونږه خپلواکي غواړو
ورکه ښاغلي غواړو
ورکه ځانځاني غواړو
دا مو دی مرام د خپل پېشوا (ص) په لار روان یو
مونږ مسلمانان یو     مونږ مسلمانان یو

—

ښکلی دی مرام زمونږ
ښکلی دی انجام زمونږ
دغه دی پیغام زمونږ
دغه دی پیغام زمونږ
سراو مال نه تیر یو مونږ د دې خاورې پېیان یو
مونږ مسلمانان یو     مونږ مسلمانان یو

—

نن که در په در یو مـــون
نن کـه مات وزریو مـون
تول زخمي څـیګن یو مـون
تول زخمي څیکر یو مـــون
دا موږ دی باور چي بریالي په هـر میدان یـو
مونږ مسلمانان یو مونږ مـسلمانان یـو

---

مـونږ د خدای قانون غواړو
خپل دښـمن زبون غـواړو
مینه پیوستون غـــواړو
مینه پیوسـتون غواړو
لوی واړه غږواله ! د تاریخ قهرمانان یـو
مونږ مسلمانان یو مونږ مسلمانان یـو

۱۳۶٤ / ۲ / ۱٦

افغان کالوني

# د وطن ترانه

ژوندون به تېرېږي باسود او وطن زموږ دی
د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

داغرونه، دا رغونه چې زموږ په وینو سره دي
سوځېدلي د سرو لمبو کې تول پراته په تنانه دي
ګلګون په خپلو وینو سور کفن زموږ دی
د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

نارې دي تکبیرونه دي لړزېږي سنګرونه
ځوانان مو دي وروړي قربانۍ ته دي سرونه
په وینو به یې ساتو دا مسکن زموږ دی
د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ دی

موږ نه پرېږدو وطن کې که خلقیان که پرچمیان دي

وطن یې دی خرڅ کړی دوی د بل چا غلامان دي

د دې وطن استوګن مرد او زن زموږ به دي

د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ به دی

—.

چې څوک وي مسلمان وي په وطن ورکوي سر

خپل ځان قربانوي دښمن نه پریږدي سنګر

په دین او په وطن باندې مین زموږ به دی

د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ به دی

—.

سر ورنه نذرانه شه د وطن په پاکه مینه

خپلواک شي ژوندون له پاره صدقه شه د تن وینه

غزاله! دا وینا د غره ګفتن زموږ به دی

د سرو ګلو باغ ښکلی ګلشن زموږ به دی

—.

۳۰ / ۸ / ۱۳۶۶ بهار کالوني

# دحق میدان

چې له مرګ څخه ویریږي پښتون نه دی
په دښمن چې دوکه کیږي پښتون نه دی

پښتون نه دی چې د بل لاس لاندې ژوند کړي
چې له سر نه، نه تیریږي پښتون نه دی

پښتون تل د خدای (٤٠) په مینه باندې مست وي
چې په بل لور روانیږي پښتون نه دی

په پښتون زړه کې به مینه د اسلام وي
له خپل دین نه چې ستنیږي پښتون نه دی

چې پښتون وي د وطن په ننګ مین وي
په وطن چې نه څوریږي پښتون نه دی

له پښتون سره به غم د خپل اولس وي
له خپل قام نه چې بیلیږي پښتون نه دی

پښتون ځوان دحق میدان کې تل ولاړ وي
چې پرې نه قربانیږي پښتون نه دی

دا شرط نه دی چې خبرې په پښتو کړي
چې د بل په خوله غږیږي پښتون نه دی

له غرزالو سره به تل د پښتون غموي

که پښتون به ترې هیریږي پښتون نه دی

۱۳۶۲ / ۷ / ٤

برتاکال

عسکر هغه دی چې سر قربان کړي

د حق په لار کې رانول ځوانان کړي

مینه د حق یې دوه عالي وي

چې په دې مینه محو ځېل ځان کړي

۵ / ۱۲ / ۱۳۶۲ - افغان کالونی

---

په زړه مې بلې د غم لمبې دي

د پاسه پنډې پرې اندیښنې دي

د چا له لاسه داسې کړیږم

د چا له لوږې داکشالې دي

۵ / ۱۲ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

# دآزادۍ په مینه

د دین په مینه د وطن د آزادۍ په مینه
د اسلامي افغانستان د خپلواکۍ په مینه

سر هغه سر دی چي پې چا ته ټیټیدل نه زده
بس تل ژوندی وي د خپل خدای (ج) د بندګۍ په مینه

بنده هغه دی چي د ژوند لویه ژوند تیروي
د خدای (ج) بنده به ژوند کوي د سرلوړۍ په مینه

د خپل وجود په پاکو وینو مې سنګر چي رنګ کړ
د دې هیواد د هر یو فرد د سوکالۍ په مینه

چي ابدي ژوند وګټي د قربانۍ په بدل
سر دې قربان شي د دې لوی قربانۍ په مینه

ګوندې دا سر مې شي قبول د لوی الله په درګې
پروت یم سنګر کې ځکه زه د سربازۍ په مینه

غزواله ! سر چي ورکوې د خپرې وا مه کوه
سر ورکوی شي د راتلونکې ژوندګۍ په مینه

کابیان ۱۳۶۶/۱۰/۲۲

# د توري خپرب

پکې سوزېږي مې تې خوږې ماشومان عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

—٥—

زما د ژوند د دنیا ګر خونه ویجاړه شوله
زما د مینې لوېشته لوېشته ځمکه شاړه شوله
زما په غرونو ځنګلونو باندې اور پورې شو
په دې وحشت مې لرغونی خونه لتاړه شوله
پرې راوریږي د بمونو سور باران عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

—٥—

زما وطن نه نن د اور یوه بټه جوړه ده
په غره او سمه د کولیو سره بڼله جوړه ده
وطن تباه شو د ظالم د سره وحشت د لاسه
بس د سیسه دګران وطن د تباهۍ جوړه ده
په دې بټه کې نیني کېږي انسانان عالمه
د ظلم اور دی لګېدلی په افغان عالمه

زما وطن کې نن د وینو سیلابونه جوړ دي
له پاکو وینو د شهیدې تو پانونه جوړ دي
د وطن کاڼي بوټي سره دي د بچو په وینو
هره سینه کې د غمونو سره داغونه جوړ دي
راته جوړ شوی خپل وطن نه دی زندان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

—٥—

زاره ځوانان مې دي د حق په سنګرو کې پراته
لکه زمریان دي د وطن په د نګو غرو کې پراته
چا له وطن نه ګرځې وکړی زې وطن پاتې شو
لا الهاند ګرځي په پردیس وطنو کې پراته
چې پرې راغلی دی د تورې شپې توپان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

—٥—

د دین په مینه په سنګر کې پتنګان جنګیږي
د ستر هدف له پاره غرونو کې زمریان جنګیږي
له سره تیر دي، خو غلام د چا کیدلی نشي
هر مجاهد مې دی د بدر پهلوان جنګیږي

قوي مو عزم، اراده ده تېنګ ایمان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

تاریخ شاهد دی زما قام څوك ایل کولی نشي
په د سیسو او نیرنګو یې شکیل کولی نشي
دا مغز قام دی چي دښمن تل تر یې زبون تللی دی
هر د سکروتو څوك دځان امیل کولی نشي
په ټول عالم کې یې ورکړی امتحان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

نن که په سر و بچو نو وران شو او ورانیږي پسې
یا دخوانانو لکړی مړي چي نړیږي پسې
نن که په سرو وینو کې غرق یې حسیني سرونه
یا که وطن مې کنډوالې باندې بدلیږي پسې
خو په روسانو هم تنګ شوی لوی جهان عالمه
د ظلم اور دی لګیدلی په افغان عالمه

-٥-

د مجاهد د تکبير چيغې مې جهان کړي ژوندي
د حق نارې يې لاندې خښکړ په آسمان لړزوي

د خداى د ديني پتنګان په سرو لمبو ګډيږي
د تورې خرپ يې هر سنګر او هر ميدان لړزوي

په ټول عالم کې يې رسوا کړل سره روسيان عالمه
د ظلم اور دې لګيدلي په افغان عالمه

-٥-

د خداى بنده د بندګانو بندګي نه مني
د بل تر لاس لاندې يې پته ژوندګي نه مني

افغان آزاد دې پيدا شوې تل آزاد به اوسي
سر ورکوي شي، خو د سر خميدګي نه مني

د آزادۍ په مينه ټينګ دي لر خيل ځان عالمه
د ظلم اور دې لګيدلي په افغان عالمه

-٥-

غږ واوره! سر چې ورکوي لمڅه سر نه قربان
چې په سرو وينو يې ګلګو مڅه سنګر نه قربان

وينه د تن چې ورکوي د خپل وطن په مينه
چې په کړکيو يې غلبيل هغه ټټر نه قربان

زه هم د داسې ستر مقام یم په ارمان عالمه
د ظلم لاس دی لګېدلی په افغان عالمه

-٥-

۱۸ / ۹ / ۱۳۶۶ تګابین

په څه به خوښ شم آرام به څه کړم
چې ګران وطن دی راڅخه پاتې
شپه نیمه تېره ده نیمه پاتې
اوښکې په مخ مې چې دي راماتې

---

زموږ د ژوند د سرنوشت او سباوون فیصله (۱)
د نن سبا دا فیصله ده د پرون فیصله
د چا په زور او په نېرنګ دا فیصله کله شي
د ز ملت ، د ز قیام او ز ما ځون فیصله

(۱) د شهرت ګمګمال د فیصلو د قطعاتو په پیکر .

# د استاد خليلي په یاد

پرېوتو یو ستوری د ادب د آسمان پرېوتو
ګل د لاله زاره د نرګسي د بوستان پرېوتو

نه به وي رڼا بيا د ادب په محفلونو کې
څراغ د انجمن د ګل غونچه او پروان پرېوتو

ګل و توکېدلی د کابل د غرو لمنو کې
خدایه دغه ګل مې شه په دښت بیابان پرېوتو

شپې هر کلي تر د باګرام توتيان وتلي دي
لال د بدخشان چې یې تر څنګ د رحمان پرېوتو

تندرو، توپان و د رومي حبشي لښکر و ته
غرو د پهلادو د قلم له میدان پرېوتو

او دې وه ولي د دښمن په کوره سکروټه و
ننګ چې و غیرت چې و نن هغه انسان پرېوتو

وینه کې یې مینه د وطن په غور ځنګونو وه

نن د حق د لارې یو غازي سخندان پریوتو

مینه د اقبال او د خوشال وریاندي ښکلې شوه

وړیځونه یو ځلاند ګل قیمتي د افغان پریوتو

او ښکې د مجروح او د غمخور به ولې نه څاڅي

ځنګ کې یې ملګری نو سپاهي د کاروان پریوتو

هسې خو زما په خوږ زړه غم دی او کوم یو وانه خوي

غم د خلیلي وژاړنې بل یو ارمان پریوتو

ښه دي جهان چې استاد جامې بدلې کړې

پرمخې له لاسه د غروال قلمدان پریوتو

۱۳۶۶/۳/۹ کربیان

خدایه وران کړې ستا شوکت آسمانونه

چې شي ختم دا ژړا دا فریادونه

دیتیم او ښکو وطن په سر اخیستی

په هر کور کې دي دلته د لوی غمونه

۱۸ / ۱۲ / ۶۲ افغان کالونی

# د مجاهد سپوږمۍ د شهادت په یاد

بیا مې پورته شول له خولې نه فریادونه
څه ناتارۍ، څه غوغا ده څه ویرونه

د آسمان لمنې سرې شولې په وینو
راورېږي له آسمان نه تندرونه

د سپوږمۍ په شهادت مې کولمې پرې شوې
زړه مې پرېشول دیځې درانده غمونه

بیا به هغه راکټ څوک په اوږه کېږدي
چې سپوږمۍ پرې سوزول شوبلې ټانکونه

بیا به هغه داشکه کړي څوک فعاله
چې سپوږمۍ کړل پرې غلبیل د دښمن زړونه

بیا به هغه ګروپ ته څوک قوماندې ورکړي
چې سپوږمۍ پرې ماتول سخت سنګرونه

بیا به هغه ځوانان څوك په یوه خوله کړي

چې سپوږمي به ترینه جوړه کړل کتارونه

بیا به هغه مور چې ځوك کاندي راتیتنګي

چې سپوږمۍ پورې تېرول میاشتې کلونه

بیا به هغه مور د چا لارې ته ګورېږي

څوك به وي چې ترینه ښکل کاندي لاسونه

بیا به هغه پلار د چا په مینه پایي

څوك به وي چې یې پر ځای کاندي حقونه

بیا به هغه بي بي چا ته ځان سینګار کړي

څوك به وي چې باندې وکاندي نازونه

بیا به هغه ورور په چا باندې نازېږي

څوك ترې چې ورته ووایي رازونه

بیا به هغه خور د چا په نامه ویاړېږي

څوك به وي چې یې قبول کړي سلامونه

بیا به هغه رهبر چاته وسله ورکړي

څوك به راوړي د سنګر نه پیغامونه

بیا به داسې مور پیدا د چا په کور شي

چې پیدا شي ترې سپوږمي په شان مېړونه

بیا به ماشې پلان په هکوږ کلو کې پیدا شي
چې نصیبیږي شي دانځې د اوینا یونه

په منګلو کې به داسې ځوان وي چېرې
چې پوره کړي د سپوږمۍ تلند ارمانونه
په مټ سنګر کې کاڼي بوټي ژاړي سړي
خدایه مه راولې بیا داسې وختونه

په دنیا کې د ژوندیو افتخار دی
په برزخ کې کاندي فخر پرې قبرونه
په وطن کې که څو نور سپوږمۍ پیدا شي
راژوندي به شي د تېر وخت تاریخونه

ویاړي ویاړي د پکتیا لوړ و غرونه
په نامه مو ورکوي ځوانان سرونه
ستا ورشو ده هدیره د دښمنانو
زغمی نه شي د روسانو قدمونه

هر یو ځوان ستا دی سپوږمۍ اندیښنه مکړه
دښمنانو نه به پوره کړي ګردونه
هر یو ځوان دې پهلوان د زمانې دی
په دښمن کړي د پولادو ګوزارونه

د شهید حسین مرغاشکي په هیر کړي

سرو ښکیلاک ته د سرو وینو سیلابونه

ای د قبر خاورو خدای روی مي بروري
خاورې نکړې د سپوږمي سپین مړوندونه
تورې ځنې یې ګردجنې چېرې نه کړې
خراب نه کړې سپینه خوله کې سپین غاښونه
تورې سترګې یې خرابې درنه، نه شي
سالم ساتې له غیرته دك هډونه
د خپل دین په مینه سر ورکړه غروالله!
چې تاریخ کې دې شي پاتې یادګارونه

۱۶ / ۱۰ / ۱۳۶۳

افغان کالوني

پکتیا په وینو بیا تکه سره شوه
اوړ پکې بل دی یوه لمبه شوه
چېغې سورې دي، دحق نارې دي
په ملحدانو بیا توره شپه شوه

۳ / ۱ / ۶۳ د اتحاد دفتر

"اورپورې شو" د قصیدو په لړکې

# اورپورې شو

زما د زړه په ارمانونو باندې اورپورې شو
د ګران وطن په غرو رغونو باندې اورپورې شو

سپرلیه! چیرې په بل د یار کې ځای لټوه
زما د مینې په باغونو باندې اورپورې شو

زما د باغ غوټۍ لا ګل نه وې چې ورژېدې
د خوار مالیان په امیدونو باندې اورپورې شو

د سره ښکیلاک د سره وحشت سیلۍ پرې والوتې
د ګل، بلبل پتنګ رازونو باندې اورپورې شو

لکه د شور کودتا مې بهار وسوځاوه .
داسې په ډېرو بهارونو باندې اورپورې شو

پښتمان اوس هغه پښتان ندی مینې نشته پکې
اور دی، لوګی میله ځایونو باندې اورپورې شو

د گل غونډۍ په میله ځای کې نن خپساییشته دي
دارغوان ښایسته ګلونو باندې اوروړې شو

چې هر سپرلی په یې کوچیانو ننداري کولي
نن مو په هغو ایلبندونو باندې اوربوري شو
چې مان دیګس به پرې دغوبدونو دمه کېده
په هغو لاروګودرونو باندې اوروړې شو

چې د زړه تول سیلانیان به ننداروته ورتلل
زما د بامیان په تاریخونو باندې اوروړې شو
چې په نړۍ کې یې مثال دبها ، نه وچیرته
د بدخشان په سرو لالونو باندې اوروړې شو

چې هر ښتري دآسمان سره رازونه لرل
نن د پکتیا په ځنګلونو باندې اوروړې شو
چې یې د الله اکبر ناره اوچته کړله
نن د کابل په زلمو، جوانو باندې اوروړې شو

چې په شغلو یې د دنیا تیارې روښانه کړلي
په هغه مو دي د ښارونو باندې اوروړې شو
د حق آوازې چې د هند بتکدې ورانې کړلي
د بت شکن په یادګارونو باندې اوروړې شو

د میرویس خان په درانده کورکې نن ایرې پرتې دي
د احمد شاه په عظمتونو باندې اور پورې شو

د لوی کوردښتې او بیدیاوې واړه وسوځیدې
د ننګرهار له رتو داګونو باندې اور پورې شو

زرنج، فراه په سرو لمبو کې وحشي شپې تېروي
هم د هرات په منارونو باندې اور پورې شو

تخت رستم د کمونستو تر برغل لاندې دی
د جام جم په مکانونو باندې اور پورې شو

چې شور او زوږ به یې د تېر تاریخ قصې کولې
د هندوکش په ابشارونو باندې اور پورې شو

چې د وطن د دښمن به لاره یې ورکه کړله
نن مې په هغو کږلیچونو باندې اور پورې شو

چې په ښکلو به یې هیلو غوړځنګونه کول
هغو سیندونو، دریابونو باندې اور پورې شو

خو وطنفروشو د وطن هستي له منځه یوړه
لوړه شمله د غیرتونو باندې اور پورې شو

د حق نارو به یې له خوبه چې ویده پاڅول
د خدای په پاکو جوماتونو باندې اور پورې شو

د روحانيونو مشايخو مينې وسوځېدې
د شهيدانو په قبرونو باندې اور پورې شو

چې هر ماښام پې د بابا د زړا تللو لار څارله
د يتيمانو په آهونو باندې اور پورې شو

مدرسې ورانې شوې تعليم ورسره ختم شولو
چې د وطن په مكتبونو باندې اور پورې شو

كروندې ورانې شوې بزگر د نوې اورم خوراك شو
په رسيدلو درمندونو باندې اور پورې شو

د متورو، برېتورو ستې وسرېدې
د بورو ورارو ځيگرونو باندې اور پورې شو

وينې د زړونو مو داوښكو په ځاى بهيدې
هم په شليدلو گريوانونو باندې اور پورې شو

شاعران ناست دي لاس ترزني، نو به څه وليكي
چې يې په ماتو قلمونو باندې اور پورې شو

د خداى ج دربار كې مو د عجز دعا نه قبليږي
د دعاگويو په لاسونو باندې اور پورې شو

هر ځاى كې اور دى مرې بلې دې دنيا اوراخيستې
اورونه اورې په اورونو باندې اور پورې شو

دا د شهید د پاکو وینو د سرخمه نښــه ده
که د آسمان په شفقونو باندې اوروپورې شو

خوک چه د دین باندې مین وي په دین سر ورکوي
د دین په مینه په سرونو باندې اوروپورې شو

سبا مې نیت دی چې د ټوی کورونه وسوځوم
خیر دی که نن زما کورونو باندې اوروپورې شو

نارو د الله اکبر دښمن نه لار ورکه کړه
همدې باطلو سنګرونو باندې اوروپورې شو

غازیان نورې نا و دي پخپل کور کې بند بوان پراته دي
چې بې په شوېلو او ټانکونو باندې اوروپورې شو

زما وطن د زمرو ځاله ده زمریان زیږوي
ځکه د روس سپکو مرېیو باندې اوروپورې شو

خلقي، پرچم هم له دې او ځنې روغ پاتې نشول
همدې په خوېونو همځانونو باندې اوروپورې شو

چې هر فرمان یې مخالف وله رواجه ځغلي
ځکه باطلو فرمانونو باندې اوروپورې شو

شرم کې خپل شاګرد مردار کړ په مړاړه لاړ لاړ
همدې نا ولو پلانونو باندې اوروپورې شو

دغه د غمونو څپې به تیرې شي خوښي به راشي
نن د مسکو په محلونو باندې اورپورې شو

بریژنف مردار شو اندروپوف ورپسې کډه وکړه
د چرنینکو تښتو فکرونو باندې اورپورې شو

اوس گرباچوف که د گوربې پښتان خیزکې وکړي
وخت ترینه تیر دی په وختونو باندې اورپورې شو

ننګیال ملت اد وحدت رسۍ محکمه نیسه
په څانګانو کې مو په خونو باندې اورپورې شو

د یو وحدت په هیله سأ راکې چلیږي خدایږو
نو دمې هډوکو اوړکونو باندې اورپورې شو

چوکه، منصب مې بکار نه دی اتحاد غوارمه
اوس په چوکیو منصبونو باندې اورپورې شو

هرڅه له یو مخې سوځیږي لولبه شو وطن
څکه غزاله! ستا شعرونو باندې اورپورې شو

٢٤ / ١٢ / ١٣٦٣

پښاور افغان کالونۍ

# قطعات

دعقرب میاشت وه دره شپیتم کال ؤ
دغم شپې ورځې دغم مهال وُ
عام قتل جوړ ؤ په کندهار کې
تالان که شوی په دین او مال ؤ

۲۲ / ۱۰ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

دخدای حکمت دی دخدای قدرت دی
یو خوا رحمت دی بل خوا وحشت دی
څه چې روان دي، څه چې پېښیږي
دا یې عزت دی، دا یې ذلت دے

۲۲ / ۱۰ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

کله راحت وي، کله زحمت ویے
کله عزت وي، کله ذلت وي
کله خندا وي، کله ژړا ویے
تل او مدام به دخدای قدرت وي

۲۲ / ۱۰ / ۱۳۶۲ افغان کالونی

د چاسترګو څخه اوښکې رود روان دی
څوك په مينه باندې مست دخپل جانان دی
چا د دين په مينه خاورې کړل سرونه
څوك باغي له خپل خالق له خپل سبحان دی

افغان کالونی ۱۳۶۳ / ۲ / ۵

غم دې هره خواته فرياد ونه دي
ظلم دی وحشت دی کړاوونه دي
ځوان د پښتانه پروت په سنګر کې دی
جرګې يې نارې دي تکبيرونه دی

افغان کالونی ۶۳ / ۱۱ / ۲۲

نارې سورې دي غرو د پکتيا کې
د برې غږ دی په هره خوا کې
دښمن د تيښتې لورې ورك کړې
ځوانان تړې تاو دي په پکتيکا کې

افغان کالوني ۱۳۶۲ / ۱۲ / ۵

شهيد قربان شو د دين په مينه
سنګرې سرې دي په پاکه وينه
چې د وطن په مينه جنګيږي
داسې ځوانان دي مولا لرينه

PROPERTY OF ACKU 670